

سپین غر
د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)
Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)

# Faculty of Medicine in Dentistry
# غاښونو طب پوهنځی

## غاښونو طب پوهنځي
## لنډه تاریخچه او پېژندنه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې(ننګرهار) د غاښونو طب پوهنځي په (۱۵-حمل-۱۳۹۰) نېټه د لوړو زده کړو وزارت د حکم پر اساس د فعالیت جواز تر لاسه کړ او د ستوماتولوژي ډیپارټمنټ لپاره یې فعالیت او د محصلینو جذب پیل کړ.

د غاښونو طب پوهنځي تر دې دمه سلګونه تنه فارغان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، چې د هېواد په بېلابېلو روغتونونو او تحصیلي بنستونو کې په خدمت بوخت دي.

د غاښونو طب پوهنځی د محصلینو د ښې روزنې په موخه عصري ۲۴ ساعته معالجوي او تدریسي روغتون، مجهز لابراتوارونه، څېړنیز مرکز، په عصري ټکنالوژۍ سنبالې تدریسي خونې، په انټرنیټي اسانتیاو برابر کتابتون، کمپیوټرلېب او نورې ګڼې درسي اسانتیاوې لري چې د با تجربه کادري استادانو او اداري پرسونل پرمټ یې تدریسي او اداري چارې پرمخ وړل کېږي.

غاښونو طب پوهنځی غواړي چې د غوره نظري-عملي تدریس او علمي څېړنو په برخو کې په ملي او سیمه ایزه کچه د غوره پوهنځي په توګه ومنل شي.

غاښونو طب پوهنځی د معیاري تحصلي نصاب، مجهز لارتوارونو او تدریسي روغتون په لرلو سره، د با تجربه او مسلکي استادانو پر مټ، د نظري-عملي تدریس او علمي څېړنو له لارې ټولنې ته د خولې جوف ناروغیو د درملنې په برخه کې وړ او په کار پوه کادرونه وړاندې کوي.

# د ستوماتولوژي ډیپارټمنټ لرلید، ماموریت او اهداف

## لـرلیـد

ستوماتولوژي ډیپارټمنټ غواړي چې د معیاري تدریس، علمي څېړنو او کلینیکي ستاژ په وړاندې کولو سره، د DMD په کچــه داسې ډاکټران وروزي چې د ټولنې اړتیاوې پوره کړي.

## ماموریت

ستوماتولوژي ډیپارټمنټ د غوره تحصیلي نصاب، مجهزو درسي اسانتیاو او غابښونو تدریسي کلینیک په درلودلو سره، د کادري مسلکي استــادانو پر مټ، د نظري ـ عملي تدریس، علمي څېړنو او اخلاقي روزنې له لارې، ټولنې ته د خولې جوف ناروغیو غوره روغتیایي چوپړتیاو برخه کې پــه کار پوه او مسلکي کادرونه وړاندې کوي.

## اهـداف(موخـــې)

- د ډیپارټمنټ اړونده چارو مشري کول.
- د تحصیلي نصاب معیاري کول.
- د غوره تدریسي مېتودونو له لارې نظري او عملي تدریس وړاندې کــول.
- علمي څېړنیزو فعالیتونو ته ترویج او پراختیا ورکول.
- د استادانو او محصلینو د علمي پوهې او مهارتونو لوړونه.
- د ډیپارټمنټ په کچه د کیفیت لوړونې معیارونو په اړه د پوهاوي لوړونه او تطبیق.
- د غوره درسي چاپیریال، غابښونو لابــراتوارونو او کتابتــون تــه د ودې او پراختیا لپاره کار کول.
- په تدریسي روغتـــون کې د غابښونـــو بـــرخې پراختیا لپـــاره کار کول.
- د خولې جوف روغتیا برخه کې د ټولنې د پوهاوي کچــې لوړولو کې ونــډه اخیستل.
- د استادانو او مسلکي اشخاصو پر مټ د علمي کنفرانســونو او ورکشاپونو وړاندې کول.

**د طبي لوړو زده کړو معیاري اداره**

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**

# اسانتیاوې

